AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۲/۰۳/۲۳

# د تکفير تولنپوهنه

د افغان سيد جمال الدين د مسلمانی په اړه خو به - ان شاءالله- څه شک و شبهه نه وي؟
انګريزانو د اسلامي نړی همدغه وينوونکی مفکر هم د خپلو پټو کړيو په خوله، له خو هېوادونو څخه د بدعت او کفر په تور وشاړه. سيد په ۱۹ کلنی کي د اميردوست محمد خان دربار ته لار وموندله، يوه موده د سردار محمد اعظم خان ښوونکی و. کله چې اميرشېرعلي خان واک ته ورسېد، افغان سيد د اصلاحاتو او مشروطه افکارو طرح ور وړاندې کړه. په دې طرحه کې د موډرنو او عصري زدکړو، مدني قوانينو، اقتصادي اصلاحاتو، فردي ازاديو او د يوه موډېرن مرکزي حکومت رامنځته کولو وړانديزونه شوي ول...
انګريزي ځريو اميرشېرعلي خان د سيد په وړاندې په دې نامه راوپاروه، چې ګواکي تر ده يې سردا محمداعظم خان د پاچايي لپاره غوره ګاڼه، ځينو ملاپانو دا ډنډوره هم وغړوله، چې سيد کفري فکرونه لري... امير شېرعلي خان مجبور شو د خپلې پاچاهی دغه خيرغوښتونکی له هېواده وشړي.
اعليحضرت امان الله شاه غازي او مشروطه ملګري يې او تر دوی راوروسته تېر تول سل کلونه هر ريفورميست، هر موډېرنيست او هر هيومانيست چې ملي وينتيا، ښکېلاک ضد تفکر او يوه پياوړي افغانستان جوړولو فکر لرلای دی، خامخا تکفير شوی دی.
په هغه غونډه کې زه هم ناست وم، چې پياوړی استاد اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد د دې لپاره وګواښل شو، چې د ويښ زلميانو د غورځنګ غړی و. استاد هسکه غاړه ودرېد او ويې ويل: وياړم، چې ويښ زلمی وم، ويښ زلمی يم او ويښ زلمی به يم! د مشروطه غوښتونکيو دوهم نسل ( ويښ زلميان) هم د تکفير له ګواښ سره مخامخ ول.
يو مهال د تکفير لپاره د زنديق کليمه کارېدله. (زند) د اوستا پهلوي تفسير و او چې په (دين دبيره) ليکدود وکاږل شو، (پازند) يې و نوماوه. زنديق به يې هغه چاته ويل، چې ګواکي زردشتی دين يې درلوده يا يې زند د کتاب په توګه مانه. نن سبا د اوستا په اړه پراخي څېړني کيږي، خو که همدغو څېړونکو ته څوک زنديق ووايي، نو ښايي غوسه شي. له دې څه زده کوو؟ موږ د تکفيري اصطلاحاتو په مانا نه پوهېږو. د سړې جګړې پرمهال لکونه کسان د کومونيست په نامه ووژل شول، کومونيست هم داسي مانا شوی و:
کومو = خدای او نيست = نشته، يعني- نعوذبالله- (خدای نه شته!).
د کومونيسم لغوي مانا کډونواله ده. دا خو يې لا پرېږده، هغه لکونه خلک چې په دې نامه ووژل شول، ښايي ۹۹سلمه يې د کومونيسم پر الفبا لا خبر نه وو.
دا اصطلاحات نوي کيږي، په نوې زمانه کي سيکولر(سيکولار) د تکفير نوې تمغا(ټاپه) ده. د سيکولريسم مفهوم هم پېژندل شوی نه دی.
خبره يوازې پر اصطلاحاتو ناپوهاوی هم نه دی. کيسه تر دې ژوره ده، اصلي پوښتنه دا ده، چې ولې ټول اصلاحي، ولس پلوي، د پرمختګ، هوساينې، ښه ژوند، ملي پياوړتيا، معاصرو علومو، وينتيا، روښانتيا او بدلون پلويان تکفير شوي دي؟
د دوهمې نړيوالي جګړې پرمهال انګريز بوخت او پاکستان نوی زېږېدلی و، دا مهال په افغانستان کې شاهي او د جمهوريت لومړی دوره د تکفير له ګواښه يوڅه په امن ول. کراره کراري وه. خو د سړې جګړې په ګرمېدو سره ښکېلاک بيا د تکفير بټی هم له دوزخی لمبو راډکه کړه.
تېره ورځ يوه روښانه ملګري دا خبره کوله، چې ولې افغانان په نومهالي (معاصر) تاريخ کې د نورو ملتونو په شان ملي اتل نه لري؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لنډ ځواب دا و :هر ملي شخصیت، چې روښانتیا ته د افغاني ټولنې د وررسولو هڅه کړې ده، د ښکېلاک له خوا تکفیر شوی دی. دا کار د شلمې پېړۍ تر اویایمې لسیزې پورې مخامخ انګریز کاوه او تر دې لسیزې روسته یې د تکفیر ټېکه پنجاب ته وروسپارله، نو د داسې تورې ټاپې په شتون کې به څنګه ځوک د ګټو افغانانو لپاره اتل شي؟
ښکېلاک پوهیږي، چې ښوونځی، پوهنتون او د نړۍ له حالاتو خبرتیا دغه ټاپه کمزورې کوي، ځکه یې لومړۍ دوښمني له دې بنسټونو سره ده.
نن سبا، چې د ګټو خلکو په جیبونو کې د پوهنو او زدکړو یوه برېښنایي زېرمه شته، بېوزله کلیوال او له زدکړو محروم خلک د ښکېلاک لپاره د تکفیر کرونده ګڼل کیږي.
یوه لنډه پایله دا اخلو، چې د ټولنیز شعور او پوهې لوړېدل، د ښکېلاکي تکفیر بې ارزښته کېدل دي او له ښکېلاکي تکفیره د ویرې کمېدل، د پرمختګ او ښه انساني ژوند موخې ته وررسېدل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ